# د سیف الرحمٰن سلیم ژوند او ترقي پسنده شاعري

**A Short Introduction to Mr. Saif ur Rahman Saleem:**
***Life and progressive poetry:***

انعام الله انعام*
مدثر احمد یوسفزی♥

**Abstract**:

Mr. Saif ur Rahman Saleem was born on 1st April 1929 at Daud Zai Gulu Zai Peshawar, Khyber Pakhtoon khwa Pakistan and died on 7th March 2007. His father name was Sayyad jalal Shah. Academically he was matriculate but according to the low level of education at his time he was appointed as clerk in treasure department. He is the author of two books "سندریز شفقونه" and "د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم".

Mr. Saif ur Rahman Saleem was known as poet. He was an eminent figure for "Lyrics" of 20th century which got famous all over his territory. The key point which is obvious out of his poetry is that he was a philanthropist. In all of his life he gave his arguments in favor of labor and workers and raised his voice against investors, wealthy and rich people.

**Key words**: Pashto, Literature, Language, Saif ur Rahman Saleem, Progressive poetry.

**د سیف الرحمٰن سلیم لنډه شاه پېژندګلو** :

کله چې په ټولنه کښې هر طرف ته د مایوسۍ او نااُمېدۍ لړې خورې وي،قام د غلامۍ په زنځیرونو تړلي شوي وي،د تعلیم روزګار، ترقۍ او پرمختګ لارې ورته بندې وي ، ټولنه د زوال، زور ،ظلم، لړي بري او انتشار سره مخ وي نو په داسې حالاتو کښې به ارو مرو د فطرت د قانون مطابق په دوؤ کښې یوه کېږي ـ یا خو به دغه معاشره د زوال ژورو کړنګونو ته پرېوځي او یا به په دغه معاشره کښې د بدلون د پاره څۀ غېر معمولي خلک راپېدا کېږي او د دغې ټولنې اصلاح به کوي او د خپل انساني وقار او عظمت نه به ئې خبروي . د ترقۍ او پرمختګ لارو ته به ئې پام راګرځوي او د غلامۍ او بې وزلۍ د دغې تیارو ګرېوان به څیرې کوي ـ هم په داسې حالاتو کښې یو ماشوم د سید جلال شاه کره پېښور تحصیل ، داودزیو د سیمې په مشهور کلي ګلوزوکښې پېدا شۀ ـ

"محترم همېش خلیل د سیف الرحمٰن سلیم د زېږون نېټه یکم اپرېل ۱۹۲۹ء یادوي".(1)

"اجمل خټک ئې د زېږون نېټه ۴ اپرېل ۱۹۲۹ء لیکلې ده". (2)

---

*M.Phil Scholar, Pashtoonkwa Study Center, Bacha Khan University, Charsada, KPK
♥ M.Phil Scholar, Pashtoonkwa Study Center, Bacha Khan University, Charsada, KPK

هم دغسې اخونزاده فرمان مسافر په خپل کتاب "ځلنده ستوري" کښې د سيف الرحمٰن سليم د پيدائش په اړه ليکي چې

"د کال ۱۹۲۹ء د اپرېل د مياشتې په څلورمه نېټه د داودزو د سيمې په مشهور کلي ګلوزو کښې زېږېدلی دی. پلار ئې سيد جلال الدين نومېږي".(3)

عبدالله جان عابد خپل اردو کتاب "پشتو زبان و ادب کي مختصر تاريخ" کښې ليکي چې:

"وہ ۴ اپریل ۱۹۲۹ء کو علاقہ داؤدزئ کے ایک معروف گاؤں گلوزی میں پیدا ہوئے اس کے والد کا نام سید جلال تھا (4)"-

دغه رنګ محترم همېش خليل خپل کتاب "د قلم خاوندان" کښې د

"سليم د زېږون نېټه ۱۹۲۹ء ياده کړې ده او د پلار نوم ئې جمال الدين سيد ليکلی دی". (5)

روښان يوسفزی ئې د زېږون نېټه ۴ اپرېل ۱۹۲۹ء ياده کړې ده.

"د سيف الرحمٰن سليم د پيدائش د کال او د نېټې په حقله مې حوالې ځکه راوړې چې دا خبره خو يقيني ده چې د دوي د پيدائش کال ۱۹۲۹ء دی ،البته په ورځو يعني تاريخونو کښې ئې لږ شان اختلاف دی او هغه داسې دی چې همېش خليل او روښان يوسفزی ئې د پيدائش نېټه يکم اپرېل ۱۹۲۹ء ليکلی ده او اجمل خټک، اخونزاده فرمان مسافر، عبدالله جان عابد ئې ۴ اپرېل ۱۹۲۹ء د پيدائش نېټه ليکلې ده. خو د سيف الرحمٰن سليم د زوي عامر سليم سره زمونږ يوه مرکه شوې وه. په هغې کښې د يو سوال په جواب کښې هغوي د سليم صاحب د پيدائش د نېټې په حقله څۀ داسې وېنا کړې وه. سليم صاحب به پخپله وئيل چې زما د پيدائش نېټه يکم اپرېل ۱۹۲۹ء ده. او د بدقسمتۍ نه دا ورځ په فول ډې (Poll day) نمانځلی شي. د دې ورځې اثر زما په ژوند هم ډېر په شدّت سره اثر انداز شوی دی او ما سره تل ژوند کښې ټريجډي شوې دي" .(6)

دغسې د سليم صاحب د پلار نوم ليکلو کښې هم اکثر ليکوالان تېر وتلي دي او په وړومبي سر کښې همېش خليل د دوي د پلار نامه سيد جلال الدين ليکلې ده چې نورو ليکوالانو د دوي پېروي کړې ده او د سليم صاحب د پلار نامه ئې سيد جلال الدين ليکلې ده، دغسې همېش خليل په خپل بل کتاب "د قلم خاوندان" کښې د سليم صاحب د پلار نامه جمال الدين سيد ليکلې ده. روښان يوسفزي په خپل يو مضمون کښې د سيف الرحمٰن سليم د پلار نامه سيد جلال شاه ليکلې

"ده او دا نامه په وړومبي ځل صحيح ليکلې شوې ده. ځکه چې د سيف الرحمٰن سليم دواړو زامنو عامر سليم او سيد محمد حسنين سره زمونږ يوه مرکه شوې وه چې په هغې کښې د يو پوښتنې په جواب کښې هغوي وئيلي ووچې زمونږ د نيکۀ په نامه کښې

هم اکثر لیکوالان لږ شان تېروتلي دي او چا سید جلال الدین لیکلې ده او چا جمال الدین سید لیکلې ده. خو زمونږ د نیکهٔ صحیح نامه سید جلال شاه وه" . (7)

د دې سپیناوي نه پس بائد چې د سېف الرحمٰن سلیم د پلار نامه سید جلال شاه ولیکلی شي.

سېف الرحمٰن سلیم خپل ابتدائي تعلیم د کلي په سکول کښې تر سره کړو. د پرائمري سبق وئیلو نه پس ئې د تعلیم سلسله جاري ونهٔ ساتلې شوه. وروستو ئې په پرائیوېټ طور پښتوانرز وکړو او بیا ئې مېټرک هم وکړو. دې نه علاوه سلیم د خپل پلار نه د عربۍ او فارسۍ کتابونه ولوستل.

سېف الرحمٰن سلیم په کال ۱۹۵۱ء کښې د خزانې په دفتر کښې کلرک بهرتي شوی وهٔ وروستو په رېډیو پاکستان کښې ورته د سکرپټ رائټر عهده هم ملاؤ شوه، د څهٔ مودې د نوکرۍ نه پس سره د ملګرو په دې تور وېستلی شوی دی چې دوي د پښتونستان ایجنټان دي.

سلیم صاحب په ځوانۍ کښې د ازادۍ په تحریک کښې توده برخه اخستې وهٔ او د ازادۍ نه وروستو ئې د اولس د حقونو تر لاسه کولو مبارزه په فکري او عملي توګه کوله او په دغه وجه د ډېرو ستونزو سره هم مخ شوی وهٔ. د څوارلس کاله قېد تېرولو نه پس چې رها کړې شو نو څهٔ موده پس ئې په ۲۸ اپرېل کال ۱۹۷۸ء کښې د نوښار بدرشو په یو معززه کورنۍ کښې وادهٔ وکړو. او په دغه وخت کښې د سېف الرحمٰن سلیم عمر اتهٔ څلوېښت کاله وهٔ. د وادهٔ تاریخ ئې د سلیم راز په لیکلې شوې څهره کښې شته چې د سلیم صاحب په وادهٔ ئې لیکلې وه او هاغه څهره ئې په خپل زوړ کور ګلوزو کښې ورارهٔ سره محفوظ پرته ده. د دوي په اولاد کښې دوه زامن چې د مشر زوي نامه ئې سید عامر سلیم او د بل زوي نامه ئې سید محمد حسنېن ده. یوه لور ئې چې په قرة العېن (عیني) په نامه نومېږي. د سلیم صاحب مشر زوې عامر سلیم په پاسپورټ افس کښې ملازمت کوي او کشر زوې ئې په عسکري بېنک کښې ملازمت ترسره کوي او لور قرة العېن (عیني) د چارسدې پړانګو په یو معززه کورنۍ کښې واده شوې ده.

د پښتو ژبې غمخوار د اولس په درد دردمند په ۸ مارچ کال ۲۰۰۷ ء کښې د زیارت په ورځ (په RMI هسپتال کښې) د ۷۸ کالو په عمرکښې د فاني دنیا نه د همېشه د پاره رخصت شهٔ او هم په دغه ورځ مازیګر پنځه بجې په خپله پلارنۍ ادیره ګلوزو پېښور کښې تورو خاورو ته وسپارلی شو. چرته چې د هغوي د کورنۍ نور وګړي هم په ابدي خوب اودهٔ دي. خو دا خبره زهٔ په دعوې سره کوم چې سلیم صېب که هر څو ظاهري وجود رخصت شهٔ خود هغوي فکر به تل تر تله دوامدار وي. سېف الرحمان سلیم چې د شاعرۍ کوم انداز او معیار قائم کړی دی د هغې د ټولو نه لوی ثبوت دا دی چې سلیم صېب په خپل ژوند ډېر شهرت موندلی وهٔ چې داسعادت ډېرو کمو شاعرانو ته په ژوند نصیب کېږي.

سلیم د اولسي ادبي جرګې فعال غړی هم پاتې شوی دی. د اولسي ادبي جرګې په باقاعده توګه رودادونه ئې خوندي کړې دي. دسېف الرحمٰن سلیم تراوسه پورې د شاعرۍ دوه مجموعې چاپ

شوي دي چې "سندریز شفقونه" او د دوېمې شعري مجموعې نامه ئې "د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم" ده ـ د سېف الرحمٰن سلیم شاعري کۀ هر څو په مقدار کښې کمه ده خو د دوي په شاعرۍ کښې چې د انسان دوستۍ، قام پرستۍ، د تخیل او تغزل، سلاست او غنائیت کوم رنګونه لیدی شي دغې رنګونو د دوي شاعرۍ ته دائمي ژوند بخښلې دی ـ اخري عمر کښې ئې د وړوکي لاهور (صوابۍ) د طاهر بخاري نه بېعت وکړو او شاعرۍ کښې ئې تصوف طرفته هم توجۀ وکړه ـ

**د سېف الرحمٰن سلیم ترقي پسنده شاعري**:

"د هر قسمه قېدو بند نه آزاد سوچ ته ترقي پسندي وئیلې شي ـ ترقي پسندي د علاقائي حدودو چې هغه د یو محور په شکل د پابندۍ تابع وي مخالفت کوي، او نۀ د یو قام یا قبیلې د رسمونو او رواجونو پابندي مني ـ دا د انساني او عالمګیریت د پاره د مساواتو او برابرۍ عقیده لري ـ د هر قسمه استعماري او استحصالي نظام نه باغي سوچ دی ـ د ترقي پسندۍ بنیادي عناصر انسان دوستي، روشن خیالي او غېر فرقه واریت پکښې ډېر نمایا او ځلاند دي ـ او خپلې خاورې سره مینه او د فکر و عمل د حریت اواز پکښې په هر دور کښې لیدی شي". (8)

ترقي پسندي په ټولنیز ژوند کښې د طبقاتي وېش غندنه کوي ـ په ټولنه کښې سرمایه داران د خپل استعماري چالونو په ذریعه د ملک ټول پېداور د خپلې سینې لاندې کوي او د خپلو عیاشو له پاره هر څۀ په خپله قبضه کښې راولي،او د ملک پېداروي قوتونه لوږو تندو سره مخ کوي ـ نو دغلته د طبقاتو ترمینځه یو خطرناک کشمکش شروع کېږي ـ

ترقي پسند سوچ د ذاتي ملکیت او د انسان د لاسه د انسان د استحصال په سختو ټکو کښې غندنه کوي ـ ترقي پسند سوچ د اقا او غلام سوچ ختموي او د تور او سپین تصور نۀ مني ـ ترقي پسند سوچ په ټولنه کښې معاشي ستونزې هواروي ـ د انسانانو ترمینځه د انساني رشتې جوړ راولي ـ د هر قسمه نا انصافۍ او ظلم ازاله کوي او د ذاتي ملکیت په سختۍ سره مخالفت کوي ـ ترقي پسندي د پرمختګ نوم دی او د رجعت پسندۍ (په شا تګ) متضاد نظریه ده.

"داردو ادب شاعرانو ادیبانو د ترقي پسند مصنفین په نوم چې کوم تنظیم جوړ کړو د هغې مقصد دا وۀ چې په ادب کښې دې د غریب او بې وسه خلکو خبره وکړې شي د سرمایه دارو د جور و ستم غندنه دې وشي ـ دغه نظریاتو نه پښتو ادب هم نېغ په نېغه اثر قبول کړو ـ په پښتو ادب کښې هم دغه تصورات په ډېر شدت سره محسوس کړې شول او بیا چې کله په کال ۱۹۳۵ء کښې" انجمن ترقي پسند مصنفین" په نوم کوم تنظیم جوړ شو نو د اردو ادب په حواله پښتو ادب کښې هم د انسان دوستۍ خبرې شروع شوې" . (9)

"دلته پښتنو شاعرانو ادیبانود کاکاجي صنوبر حسېن مومند په مشرۍ کښې "اولسي ادبي جرګه" تنظیم جوړ کړو چې سېف الرحمٰن سلیم هم د دې تنظیم په باني غړیو کښې دی۔ دغه ټولنه کښې به ډېردرانۀ درانۀ شاعران ادیبان رایوځائی کېدل په ادب به ئې خبره کوله د انسان دوستۍ بحثونه به ئې کول، د پښتو ژبې د ودانۍ او د ښېرازۍ فکر به ئې کولو۔ دې ټولنې د سلیم په ادبي تربیت کښې ډېر لوی کردار تر سره کړی دی۔ اوس به د سلیم غزل کښې ترقي پسندۍ اړخ ته راشو. د سېف الرحمٰن سلیم غزل کښې چې کوم د ترقي پسندۍ رنګ دی ، زما په خیال چې په پښتو غزل کښې هغه تر ننه پورې د ځان ثاني نۀ لري ،ځکه چې هغۀ د غزل په نازکه غېږه کښې چې د ترقي پسندۍ کوم رنګ په فني پېرایۍ کښې ځای کړی دی ، هغه په اردو ادب کښې د فېض احمد فېض په غزل کښې لیدی شي۔ کۀ پښتو ادب کښې مونږ د ترقي پسند ادب په حواله د نظم خبره کوؤ نو د اجمل خټک او ولي محمد طوفان او د نورو ډېرو شاعرانو نامې مخې ته راځي۔ او که غزل کښې د ترقي پسندۍ خبره کوو نو صرف د سېف الرحمٰن سلیم نامه به په خصوصي توګه سره اخستلی کېږي".(10)

د سېف الرحمٰن سلیم شاعري قلندر مومند خپله مقاله کښې په دریو دورونو کښې تقسیم کړې ده۔ د درېم دور د شاعرۍ په حقله قلندر مومند خپله رایه څه په دا رنګ څرګندوي چې :

"دلته هیله هغه د ادب په اصلي او ترقي پسند تعریف پوهه شوی دی۔ دلته هغه د ادب صرف د ادب یا د ژوند عکاس نۀ ګڼي بلکې ورسره ورسره ئې د ژوند د ښو قدرونو نمانځونکی، ژغورونکی او ساتونکی هم ګڼي او په دې هم پوهه دی چې د ادیب او رېښتوني شاعر فرض دلته ختمېږي نه بلکې هغه د ادب په ذریعه د ژوند د ښو قدرونو، رواج د بدو قدرونو استعار او خاتمه کوي۔" (11)

افراسیاب خټک لیکي چې:

"هغه د جنګ، سامراج، غلامۍ او استحصال سره کرکه اووطن سره مینه لري۔ هغه د مزدورانو ورور دی او خپل نظم کښې هغوي ته د اتحاد غږ کوي۔ هم دغه رنګ د وطن سره مینه د یوه طلائي تار په شان د هغۀ په هنر کښې سر تر پایه زغلېدلی دی۔ لکه چې وائي :

"د زلفو، د سپرلي او د نشې په نوم دې ستائم
زما پښتنې سیمې ته مې پېغله د غزل ئې "(12)

"اوس کۀ چرې دې یو شعر ته په غور وکتلی شي نو په ترقي پسندۍ کښې د وطن سره مینه هم یو غټ عنصر دی. سېف الرحمٰن سلیم ئې ځومره په فني او شاعرانه انداز کښې د غزل په شعر کښې ځایوي، او هېڅ قسمه د پروپېګنډې ښکار کېږي نه ، بلکې د غزل حسن او ښکلا پرې لا سېوا کېږي . د سلیم په شاعرۍ کښې انساني مینه، طبقاتي نظام،عشق و عاشقي ، پښتونولي او انسان دوستي یو ځای شوې دي". (13)

سلیم په زړۀ کښې د خوار اولس درد او دړد لرلو،نۀ صرف شاعرۍ کښې ئې د مزدوراو د بې وسه خلکو خبره کړې ده بلکې عملي ئې هم د هغوي مرسته ښۀ په ډار کړې ده . د جېل تورو تمبو په شا شوی دی وهل ټکول ئې خوړلي دي خو د خپل مقصداو مرام نه وروستو شوی نۀ دی بلکې تر مرګه په خپله خبره او نظریه کلک ولاړ وۀ وروستو اګر چې د تصوف اړخ ته ډېر مائله شوی وۀ خو تصوف هم د انسانیت د اخلاقو ښۀ کولو ډېره غوره لاره ده.

هر څو کۀ د سېف الرحمٰن سلیم شاعري ترقي پسنده ده. خو د دوي د شاعرۍ اسلوب بیخي منفرد رنګ لري. دوي کۀ په شاعرۍ کښې کومه سیاسي مسئله هم بیان کړې ده نو ورته ئې د خپل انفرادي اسلوب په وسیله انفرادي رنګ ورکړی دی ، او د شاعرانه فن په لباس ئې ښائسته کړې ده . سېف الرحمٰن سلیم د حنیف خلیل سره په یو مرکه کښې د خپلې شاعرۍ په حقله دا وینا کړې وه چې

" زما شاعري ترقي پسنده ده او کۀ نه. خو دغه تحریک مې خوښ وۀ . زۀ ځان هم د دغې ترقي پسنده قافلې یو کمزوری ملګری ګڼم". (14)

خلک د ځان غم کوي خپل غم په مخه کړي وي سلیم هاغه شخصیت دی چې ټول عمر ئې د یو ښکلي انسان د پاره د یو ښائسته پُر امن دنیا فکر کړی دی. یوه داسې دنیا ئې ابادول غوښتل چرته چې نفرتونه،جنګونه نۀ وي،مینه وي،انسانیت وي،عدل و انصاف وي او ټولو انسانانو ته یو شان د خپل ژوند تېرولو حق حاصل وي. دا خبره ما چرته بل مضمون کښې هم کړې ده چې پښتانۀ د نړۍ په مخ هغه بدنصیبه قام دی چې دوي جنګ جګړې او نفرتونه په ښکاره او بهادرۍ سره کوي او مینه محبت پټ زړونو کښې ساتي او په تېره تېره فخر پرې د پاسه له جدا کوي حالاتکې داسې نۀ ده،ژوند دوه درې ورځې دی پکار ده چې مینه وکړې شي،د نفرتونو نه څۀ جوړېږي؟جنګونه د مسئلو حل نۀ دی جنګ خو خپله ځان سره بلها ډېرې مسئلې راوړي. سلیم به هم دغه خبره کوله چې ای خلقو د مینې لاس یو بل ته ورکړئ،د انسانیت لاره خپله کړئ،د ظلم او جبر نه په قلار شئ،د انسان د تقدس نه خبر شئ. نور خلق خپل ارمان ژاړي. دې سړي ټول عمر د نورو ارمانونه ژړلې دي. د خپلې مقالې د طوالت له وجې اوس د سېف الرحمٰن سلیم د ترقي پسنده شاعرۍ په رڼا کښې د هغۀ د شعرونو نه څۀ لږه حصه دلته وړاندې کوم.

"د مېکدې به خدای قضا راوسته
چې ئې اختيار کښې د مُلا راوسته
څومره جونګړو ته دې اور ورته کړو
چې خپل محل ته دې رڼا راوسته"(15)

په دې شعرونو کښې د هغه قوتونو غندنه شوې ده چې د پرېوتې طبقې استحصال کوي او پردې حقونه په بډه وهي - نو کۀ وکتلې شي نو د ترقي پسندۍ بنيادي اُصول دا دي چې د استحصالي قوتونو غندنه دې وشي او د هغوي نارامې دې اولس ته په ډاګه شي.

"مينه د وطن کۀ مې د ټولو مينو ميره ده
مينه د انسان مې هم په زړۀ کښې عالمګيره ده "(16)

د سليم د دې شعر په وړومبۍ مصرعه کښې د وطن سره د مينې اظهار شوی دی او وطن سره مينه د ترقي پسندۍ په اولني اصولو کښې شمارلې شي - خو د دې باوجود چې کله د انسان او انسانيت خبره راشي نو بيا سليم صاحب کۀ هر څو وطن سره مينه د مينو ميره ګڼي - خو د انسان او انسانيت سره مينې ته د عالمګيرې مينې درجه ورکوي - سيف الرحمٰن سليم په دې شعر کښې په حقيقي معنو کښې د خپلې ترقي پسندۍ په برملا الفاظو کښې اظهار کړی دی - يا دا شعر ئې ولولئ چې:

"د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم
لويه خدايه زۀ به چا چاته سجده کړم "(17)

دا شعر ډېر افاقيت موندلی دی تر دې چې ځنې عام وګړي دا شعر د عبدالغني خان ګڼي - دې شعر کښې سليم صيب برملا خدای پاک ته دا ګيله کړې ده چې خدايه دلته بلها د زمکې خدايان دي هر سرمايه دار، هر جاګېردار د خوار اولس نه خپل بنديان او غلامان جوړ کړي دي - دغه غټان د بې وسه طبقې وينه څښي، د هغوي عزتونه لوټوي او خپله مزې چرچې کوي دا دانسانيت تقاضې دي کنه د حيوانيت - دلته په هره چوکۍ هغه داړه ماران ناست دي چې د انسانانو حقوق برملا ضائع کوي -

د اروښاد سليم يو بل شعر دلته وړاندې کوم چې لوستونکيو ته اندازه وشي د هغه د شعريت هم او د فکر هم، دې شعر کښې په کوم انداز کښې د حرکت او عمل خبره کوي چې خپله خبره هم کوي او په داسې انداز کښې چې د غزل نازک مزاج ته نقصان هم ونۀ رسي:

"عجيبه ده محبوبه غېږه کښې غواړې
او لاسونه دې خپل شاته دې تړلې"(18)

سليم د خپلې پښتنه خاورې سره ډېره مينه او عقيدت لرلو او د دې خاطره هرې قربانۍ ته تيار وۀ دلته ئې دا شعر د نمونې په توګه ولولئ:

"خپله خاوره به په سترګو ښکلومه
سر د لاندې که د پښو نه آویزان شم"(19)

یا دا شعر ئې ولولئ:

"خېړه خاوره د وطن مې محبوبا ده
دا زما ده هم زما ده بس زما ده"(20)

د جمهوریت فکر ئې د دې لاندیني شعر نه اندازه کېږي:

"د منزل په تعین کښې رهبرانو
قافلې ته هم څۀ حق د فیصلې شته"(21)

سلیم ټول ژوند د جدوجهد او عمل په محور کښې تېرولو، هغه د دې قائله وۀ چې د هرې سختۍ مقابله پکار ده یعنې مزاحمت کول ئې د ژوند برخه ګڼله. د سلیم په شاعرئ کښې صداقت، رښتیا او په تېره تېره حقیقت پسندي ډېره جوته ده خپله وائي چې:

"ژبه چې غواړې اول خلۀ پېدا کړه
ژبه عبث ده چې دې خله نشته دی"(22)

لکه بره ذکر شوی دی چې سلیم د خپل اولس سره ډېره مینه لرله بلکې په کلهم انسانیت مئین وۀ، اکثر به ئې دا خبره کوله چې کله زۀ په بازار کښې یا په کلي کښې روان یم او څوک په مسکا ووینم نو بې شانه خوشحالي راته محسوسه شي چې ښۀ ده څوک هم مې په خندا ولېدو کنه. یعنې هغه د اولس خوشحالي خپله خوشحالي ګڼله او د هغوي درد ئې خپل درد ګڼو دلته لاندیني شعر کښې هم څۀ په دا رنګ ګویانه دی چې:

"که پرې علاج د چا د اوښکو وشي
مانه زما د ژوند خندا واخلئ"(23)

سلیم خپل ټول ژوند د خوار اولس نه ځار کړی دی. دغه مرام کښې هرې سختۍ ته لکه د غر ولاړ وۀ. هغه اولس ته ازادي غوښته چرته چې ظلم، بربریت، او وحشي نظام نۀ وي. دې لړ کښې څو شعرونو ورکولو باندې اکتفا کوم ځکه چې د سیف الرحمان سلیم په دې موضوع ډېر شعرونه وئیلې دي او بله دا چې شاعري ئې ډېره روانه او اسانه ده د تشریح کولو ضرورت نۀ پوهېږي:

"هر وګړی چې د قام مې وژل کېږي
ماته داسې درد رارسي لکه زۀ مرم"(24)

"د چمن مړاوې ګلونه به تازه شي
لا زړګوټي کښې مې وینه څو قطرې شته"(25)

"دې نه لويه بدبختي د چمن څۀ ده
په ګلچين کوي ګلونه اعتماد"(26)

"زمانه راپسې توره په لاس ګرځي
لکه ما ئې چې وي پلار نيکۀ وژلي"(27)

"ما په دار کړئ چې منصور ته خلقو ته ياد شي
مودې وشوې څوک په دار نۀ دي ختلي"(28)

"خاورې به دهقان ته څۀ فائده وشي
مخکښې چې ترې دوي نه د دوي خان روان"(29)

"امېلونه ئې د غنو شو په غاړه
چا چې لارې جوړې کړې وې سپرلي ته"(30)

" زۀ چې کربلا ته د حسين سره راغلی يم
تمه به مې څنګه د شمر نه د اوبو کېږي"(31)

"دلته خو فصل زمونږ نور يوسي
دانه دانه رانه په زور يوسي
ماشومان تول راته نهر پرېږدي
مينځ نه روټۍ زمونږ د شکور يوسي
زمونږ د شونډو تبسم لوټ کړي
زمونږ اواز نه ترنم لوټ کړي
په قوانينو زمونږ خُلې وتړي"(32)

د سېف الرحمٰن سليم نظمونه کۀ هر څو د ګوتو په شمار دي خو په اکثرو نظمونو کښې ئې هم دغه فکر مخ په وړاندې بوتللی دی او هم د ترقي پسندۍ نظريې ئې ښۀ نمائندګي کړې ده. د سليم صېب د شاعرۍ خوبي هم دا ده چې د دۀ په شاعرۍ کښې کۀ هغه نظم دی او کۀ غزل نو هم د دغه فکر او خيال

نه چاپېره چورلي او په معاشرتي لړي بري باندې ژور نظر ساتي ـ سليم په انسانيت مئين وۀ د کلهم انسانيت د پاره ئې خبر غوښتو۔ د پښتو ژبې بې بدله شاعر که د جهل د تورو تمبو په شا شوی دی خو خپله هڅه ئې روانه ساتلی ده ـ د شاعرۍ خاصه ئې دا ده چې ژبه ئې ډېره اسانه روانه او عام فهمه استعمال کړې ده ـ عام اولس پرې هم په اسانه پوهېږي ـ سليم پښتو غزل د ګل و بلبل، خط و خال، حسن و جمال د محدودې دائرې نه رابهر کړو او د نوي نظرياتو سره ئې اشنا کړو ـ خو په فني چوکاټ کښې ئې بدرنګي نه بلکې نوره ښکلا هم ورته ورکړه ـ لنډه دا چې سيف الرحمٰن سليم ډېر په مهارت او سليقه پښتو غزل د عصري رجحاناتو، قامي احساساتو او د ژوند د مسئلو ترجمان او عکاس وګرځو. هغه د قامي وحدت او افاقي امن اظهار ډېر په فني پېرايې کښې کړی دی۔ دغه سپور او ستغ موضوعات هغۀ ډېر په اسانه، روانه شعري لهجه او جمالياتي استعداد سره بيان کړي دي ـ هغۀ د دغه وخت د سنګينو حالاتو ډېر په ښکلي او زړۀ راښکونکي انداز کښې اظهارِ خيال کړی دی۔ او د دۀ په غزل کښې دغه تصورات هر څوک ځان ته متوجه کوي ـ ډېرې بخښنې سره دا خبره کوم چې د سليم صېب شعرونه دومره روان،آسان او ساده دي چې هر لوستونکی پرې ډېره په آسانه پوهېږي دې وجې نه مې برني شعرونو وضاحت کولو نه ډډه وکړه او صرف د نمونې په توګه مې شعرونو باندې اکتفا وکړه ـ سليم صېب فکر ترقي پسند لرلو او ټول ژوند په خپله نظريه کلک ولاړ وۀ ـ سليم صېب د انسان د ودانۍ او ښېرازۍ د پاره تل هڅې کړي دي۔ دا هڅې نۀ صرف زباني وې بلکې عملي ئې هم د اولس د ښې ورځې د پاره ګامونه پورته کړي دي او بيا ئې په خصوصي توګه خپله شاعرۍ کښې هم د انسان او انسانيت خبره کړې ده او د ظالم جبر ئې غندلی دی۔

سليم صېب د پښتو څلورم دور د حمزه صېب نه پس ډېره لويه نامه په عام او خاصو کښې پېدا کړه.سليم چې په کوم دور کښې غزل ته متوجه شوی دی نو ياده دې وي چې دغه دور کښې د نظم ليکلو ډېرې چرچې وې او غزل ډېر کم ليکلی کېدو ځکه چې غزل صرف د نسائي حسن د پاره مقرر شوی وۀ او په دغه لاره تګ اسان کار نۀ وو سليم صېب په خصوصي توګه خپله ټوله توجه غزل طرف ته وکړه او يو ځانګړی مقام ئې پښتو ادب کښې پېدا کړو ـ دسليم صېب په شاعرۍ کښې د ترقۍ پسندۍ په اړه د خپل وس مناسب خبرې وشوې او راراوان مضمون کښې به د دوي د قام پرستۍ او نورو مضامينو په اړه ليکنې انشاءالله وخت په وخت لوستونکيو ته وړاندې کوم،هسې خو اروابناد سليم د هر چا خوښ شاعر دی هر چا به پرې خپلې ليکنې کړي وي خو زۀ هم د يوسف په خريدارانو کښې ځان شاملوم او دغه مات ګوډ ليک مې تر خپله وسه وکړو۔ د ادبي ګستاهو معذرت خواه يم .

## حوالې


1. همېش خلیل، پښتانۀ لیکوال، یونیورسټي پبلشرز پېښور، اشاعت درېم، کال ۲۰۱۰ء، مخ ۴۸۹
2. اجمل خټک، پشتو ادب ماضي و حال، مؤلف عبدالله جان عابد، پښتو اکېډیمي بلوچستان کوئټه، کال ۲۰۱۴ء،مخ ۲۱۷
3. مسافر، فرمان اخونزاده، ځلنده ستوري، کال ۱۹۸۴ء، مخ ۲۳۱
4. عابد عبدالله جان، پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ،پېښور، یونیورسټي پبلشرز ، ۲۰۱۱ء، ص ۲۲۴
5. همېش خلیل، د قلم خاوندان، ملت اېجوکېشن پرنټرز، لاهور، کال ۱۹۹۹ء، مخ ۲۲۴
6. سلیم، عام،مرکه، یونیورسټي ټاون چینار روډ، بنګله نمبر ۸، نېټه ۲۰۱۸-۰۹-۲۰
7. همدغه
8. سلیم راز، ادب او تنقیدي مسائل، کلاسیک خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۶ء، مخ ۶۷
9. همدغه ، مخ ۸۴
10. فرخنده حیات، سېف الرحمٰن سلیم یو حقیقت پسند شاعر، مشموله، پښتو، ۲۰۰۰ء، مخ ۷۹
11. قلندر مومند، میزان، زرپاڼه پرنټرز پېښور، کال ۲۰۰۸ء، مخ ۳۰
12. افراسیاب خټک، (دیباچه)، مشموله، سندریز شفقونه ، مخ ۱۰
13. سلیم سېف الرحمٰن، سندریز شفقونه، پوهنیار بریالی باجوړې، (دیباچه)، کال ۱۳۶۵هـ ش ، مخ ۳۲
14. حنیف خلیل، مخ په مخ، دانش کتابخانه، ډهکي نعلبندي پېښور، کال ۱۹۹۹ء ،مخ ۱۷۳
15. سلیم ،سېف الرحمٰن، د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم، پښتو نړیواله مرکه،۲۰۱۷ء ،مخ ۱۰۲
16. همدغه، مخ ۷۳
17. همدغه ، مخ ۵۱
18. سلیم سېف الرحمٰن،د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم، پښتو نړیواله مرکه،۲۰۱۷ء ،مخ ۷۴
19. همدغه ،مخ ۱۹۰
20. همدغه ،مخ ۳۹
21. همدغه،مخ ۳۸
22. همدغه،مخ ۸۷

23. همدغه،مخ ۱۵۳

24. همدغه،مخ ۱۵۳

25. همدغه،مخ ۳۸

26. همدغه،مخ ۷۰

27. همدغه،مخ ۷۴

28. همدغه،مخ ۷۵

29. همدغه،مخ ۷۹

30. همدغه،مخ ۸۳

31. همدغه،مخ ۸۶

32. همدغه،مخ ۱۲۸،۱۲۹